﴿ ۴ ﴾

# د اتلسم قرن په اوایلو کي د افغانستان

## د بیا آزادولو لپاره د میرویس مؤثر حرکت

زمانه کله کله د ملتو په منځ کي نوابغ او وتلي خلك پیدا کوي چي د دوی په همت کښته لوېدلي او نفاق وهلي خلك پر یوه ملي موقف سره راټولیږي او په یوه اتفاق د لویو کارو لپاره ملاوي تړي. مګر داسي نوابغ ډېر لږ پیدا کیږي، او د زماني مور ډېر اوږده کلونه شنډه وي، څو چي کله کله نوابغ وزېږوي.

که څه هم د دغسي نوابغو په پیدایښت کي ځني تاریخي او اقتصادي او اجتماعي عوامل حتماً موثر وي، مګر د نابغه خلق او ذات او شخصیت هم ډېر اثر لري، او هر نابغه باید ځني داسي صفات ولري چي د خلکو قیادت وکړای سي.

د افغانستان په تاریخ کي ډېر سیاسي ـ جنګي ـ علمي ـ ادبي او روحاني نوابغ تېر سوي دي، او یو له دغو څخه حاجي میرویس خان هوتك دی، چي دی موږ نابغه ګڼو. مګر دی نه لوی پادشاه او جهانکشای وُ، او نه لوی عالم او دانشمند وُ، نه لوی لیکوال او ادیب وُ، خو د لویو پادشاهانو سیاست مداري، د غښتلو جهانګیرانو دلاوري، د پیاوړو عالمانو دانشمندي، او د اور ژبو ادیبانو او خطیبانو غوندي اغېزه ناکه وینا او د



لوړو روحانیانو په توګه یې روحي اغېزي درلودې. نو باید داسي ووایو چي میرویس خان مشر او د خلکو له منځه راوتلی قاید وو.

ملي قاید همېشه د اخلاقو او روحي اغېزو په مرسته د خلکو پر روح او زړونو باندي مسلط وي.

خلك دی ډېر غمخور، همدرد ګڼي او د ده په وینا کي د اخلاص او رښتیا دوني اثر وي چي خلك د ده په لارښوونه هر راز قرباني ته تیاریږي، او دا صفات ټول په میرویس خان کي جمع وو.

د میرویس په نیکونو او کورنۍ کي خو لا دمخه د مشرتابه صفات او لوازم موجود وو، د بابا هوتك کورنۍ په زابل کي د پښتنو مشره او درنه کورنۍ وه، د ده مور هم د توخو د مشرانو له کورنۍ څخه وه، نو د ده پرورښت په داسي محیط کي سوی و، چي دی باید یو جامع الصفات قاید راووزي.

میرویس تر قبیلوي عصبیت لوړ مزاج درلود، او ټول افغانان یې په یوه سترګه لیدل، د ده روحاني اثر دونی و، چي نه یوازي پښتانه د ده سره ملګري وو، بلکي ټول افغانان هم ورسره ولاړ وو، دراني ـ غلجي ـ بلوڅ ـ هزاره د ده د ملي حرکت مؤید وو.

د میرویس لوړ نظر خپل ټول خلك په یوه راز لیدل او د خپل ملت د آزادۍ لپاره یې هڅه کوله او ده د ارغنداو پر څنډو د هغه ملي غورځنګ بنیاد کښېښود، چي دېرش کاله تر ده وروسته د احمدشاه بابا په همت د لوی افغانستان په ډول د دنیا په نقشه کي بیا یو آزاد او غښتلی سلطنت دلته زیا ت سو. وایي چي نازو د میرویس مور به تل ده ته دُ لویو کارو د انجام توصیه کوله او دا هغه لوی کار وو چي د میرویس په لاس انجام سو، یعنې د افغانانو اتحاد او د پردیو حکمرانانو له غلامۍ څخه نجات.

میرویس یو تکړه سیاسي دماغ درلود، ده خپل موقعیت د هند او ایران د دوو قوي بادشاهیو تر منځ په خورا دقت او غور سنجولی و. هو ! د ایشیا د دوو لویو امپراتوریو تر منځ د صفویانو او د هند د تیموریانو هغه کورنۍ چې پر ټول هند او ایران یې حکمراني کوله.

**میروس** د اصفهان دربار په غور مطالعه کړی و، د حسین صفوي پاچا **عقلي** او روحاني ضعف ورته معلوم و، د دربار رجال او د پارس مشران **یې ښه پېژندلي** وو او دا هم ورمعلومه وه چې د هلمند او ارغنداو ناوې له **قدیمه، ځنګه د غښتلو** پهلوانانو زانګو وي وې، او دغو خلکو د هغه **وخت په سیاسي** وضع کې د جغرافیا او اقتصاد پر بنیاد ځنګه مهم **موقعیت درلود. میرویس** روابط تر وخته پورې له دوارو شرقي او غربي **یعني د ډهلي او اصفهان** له دربارو سره سم ساتل څو دی د خپل قوم په **تنظیم او اتحاد موفق کېدئ**. مګر هغه وخت چې ده دغه بیلي بیلي ګوتي **د یوه قوي سوك په ډول راټولي کړې** نو هغه وخت دی د میدان د لارو **سپاهي او د جنګي لښکرو سالار** سو. او د ده شخصیت دلته په درو توکو **کي ښکاره سو** :

**د قوم په منځ کي رهنما او مشفق پلار چي خبره یې** خلکو منله. د جنګ پر میدان دلاور او بریالی سپه سالار، **چي د صفویانو امپراتوری** ته یې شکستونه ورکول.

د سیاست پر ډګر یو پوخ او هوښیار دیپلومات، **چي خپل موقعیت یې** د افغانستان د تاریخ پر اساس د یوه مرکزي آسیایي سلطنت **د بیا جوړولو** لپاره ښه سنجولای سوای. میرویس لیدل چي په افغانستان کښي **تر ده** پخوا ډېر قوي او غښتلي سلطنتونه جوړ سوي وو، د صفاریانو ـ غزنویانو ـ غوریانو ـ تیموریانو غټ غټ دربارونه تشکیل سوي وو، له



تاریخه څخه د ده سیاسي استنتاج هم دا و چي دا مځکه د سیاسي تشکیلاتو لپاره تاریخي او اقتصادي استعداد لري. او هغه شرایط دلته موجود دي چي د هند او ایران تر منځ یو د سلطنت او اداري او ثقافت مرکز وي او د سلطان محمود او یعقوب لیث او محمد غوري غوندي لوړ حکمرانان دلته وروزل سي، او د میرویس دغه سیاسي استنتاج وو چي ده خپل حرکت په جرات او متانت وکړ، او د ده خوب د احمدشاهي لوړ سلطنت په تشکیل کښي تعبیر سو.

د میرویس دلاوري، سیاست مداري، جنګي کارنامې او نور صفات هر یو د تقدیر او منلو او ستایلو وړ دي، مګر زه تر ټولو د ده روحي قدرت او نفوذ مهم ګڼم، ځکه چي ده یو متفرق او استعمار ځپلی قوم سره راټول کړ، او د دوی په منځ کي یې اعتماد پیدا کړ، دوی یې داسي غښتلي او قوي کړه چي د ایشیا له یوې خورا غټې امپراتورۍ سره وجنګېږي.

د میرویس دغه کارنامه ځکه د ستایلو وړ ده چي تر ده دمخه په خلکو کي اعتماد او اتحاد نه وو، پردو د خپلو ګټو لپاره په دوی کي قبیلوي نفاقونه اچولي وه، چي یوه قبیله به زور سوه هغه بله قبیله به یې د دوی مخي ته ودرول. که به یو خان یا ملك قوي سو د هغه پښني به یې د ها بل خان په چاره ور پرې کولې. د میرویس کمال او لوی والی هم دا و چي د داسي پاشلي او نتلي قوم په منځ کي یې اعتماد، یو والی، خپلوي او دوستي پیدا کړه. کله چي میرویس خپل حرکت په قندهار کي شروع کاوه، نو ده څو واره د قوم نوبي مرګې راوغوښتې په دغو جرګو کي به غلجي ـ دراني ـ بلوڅ ـ هزاره او ټول د خلکو نمایندګان او مشران حاضرېدل، او فیصله به یې هم دا وه، چي د صفویانو له غلامۍ څخه

ځنگه ځانونه خلاص کې، او ځنگه به د دوی ساخلو په قندهار کښې تباه کوي.

جرگو به دغه خبره سنجوله، چي ځنگه به جنگ کوي؟ په چا به يې کوي؟ څه به خوري؟ او آيا دغه حرکت ديناً جواز لري که يه؟

په خلکو کې دوني اعتماد او اخلاقي متانت موجود و، چي د څو کالو د جرگو احوال هيچا د صفويانو د حکمران تر غوږه ونه رساوه. د ميرويس د پيروانو ايمان او عقيده دوني کلکه وه چي يو نفر جاسوس هم نسو پکښې پيدا، چي گرگين صفوي حکمران له خطرناکو عواقبو څخه خبر کړي. يقيناً په يوه نتلې او ځيلي قوم کې دوني روحاني قوت پيدا کول د ميرويس غټه کارنامه ده، او دا هغه وخت موږ اندازه کولای سو چي د ده معقول حرکت د پير روښان تر غورځنگ وروسته په مقايسوي توگه تحليل کو :

د پير روښان حرکت خو اساساً د يو اجنبي ظالم قوت په مقابل کې د پښتنو روحي رد علم و، مگر په دغه حرکت کې تر سياست مداري او عقلي سنجش زيات، د تصوف او روحانيت عناصر ډېر وو، نو ځکه د ډهلي دربار د هغه په ماتولو کې په ديني او روحاني وسايلو لاس واهه، او د اخوند درويزه ديني ډله يې پخپله د پښتنو په منځ کې پر پښتو ورته ودروله او د تکفير په وسيله يې د دوی حرکات شنډ کړل. نو پير روښان خو آزادي خواه او جنگي دلاور مشر و، خو د ده نبوغ په صوفيانه تبليغ او جنگي کرامو کې ښکاره کېدئ.

مگر ميرويس خپل حرکت پر عقلي او سياسي سنجش او د مليت پر تبليغ باندي بنا کړی و، نو ځکه کامياب و، او هر ملي حرکت چي پر سياسي پوهنه او ميچونه باندي ولاړ وي هغه حتماً بريالی کيږي.



د ميرويس سياسي مطالعه هغه وخت پراخه سوه چي ده د هند اوضاع او د تيموريانو د آخرينو پادشاهانو ضعف د افغانستان په شرقي ولاياتو کي وکوت، او بيا نو ولاړ ايران او د اصفهان دربار يې په غور مطالعه کړ، او بيا د حج لپاره ور تېر سو، د عثماني امپراتورۍ اوضاع يې په عراق او عربو کي وکتل. د ده مطالعات دا وو که دی د اصفهان له درباره سره ونښلي نو آيا دغه دربار له داخل او خارج څخه څوني قوت لري؟ ده وليدل چي د دربار حال د داخلي رجالو د اختلاف په سبب دوني ناوړه دی، چي پر ميرويس باندي له اصفهانه تر قندهاره لويه لښکر کشي نسي کولای، او هم دغه دربار له خارجه کومه قوه نسي را جذبولای، چي هغه دي پر ميرويس باندي استعمال کي. دا وې د ميرويس د نبوغ او برې سياسي او اجتماعي خواوې.

ميرويس تر سلو کالو اسارت وروسته بيا د افغانستان د آزادۍ اساس په کندهار کې کښېښود، چي په نتيجه کې د هرات د تيموريانو تر امپراتورۍ وروسته، يو نوی آزاد حکومت په کندهار کي بيا تاسيس سو، او تر ميرويس وروسته دغه افغاني هوتکي سلطنت په يوه عظيمه امپراتوري تر اصفهانه پوري ورسېدی، او بيا د احمدشاه ابدالي په همت تر ډهلي پوري خپور سو.

نو ميرويس په تاريخ کي د افغانستان د استقلال يو پخوانی حامي او موسس دی. (۱)

(۱) عرفان مجله، ۱۳۴۷ ل کال، ۵ مه گڼه، ۸ _ ۱۰ مخونه.